مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد.

محمد عارف رسولي

۲۰۱۹/۰۳/۲۳

# په منځنۍ اسیا او افغانستان کې ستړې لوبې،

## له اوس سره یې تړاو

### دویمه برخه

په دې برخه کې موږ په هغو سفرونو، څېړنو او استخباراتي هڅو بحث کوو چي انګرېزانو او روسانو په افغانستان باندې د کنترول او بیا وروسته د خپلو مستعمرو یعني د هند او منځنۍ اسیا تر منځ د حایل ساتلو لپاره ترسره شوي دي. په مقاله کې به هڅه وشي چې په هغو درسونو تمرکز وشي چې د اوس او راتلونکي لپاره یې موږ ورنه اخیستلای شو.

**افغانستتن ته د انګرېزانو څېړنیز سفرونه او د اشغال لپاره د لارې نقشه جوړول ــ د اوس لپاره یې درسونه**

انګرېزانو د سکندر له کیسو او په هند د افغانانو له واکمنۍ د افغانانو په هکله اورېدلي و او د افغانستان په ستراتیژیک موقعیت پوهېدل. لارډ کرزن به ویل چي: «**دافغانستان شته والی د هغه د جغرافیایی موقعیت مرهون دی**». د دې معنی دا وه چي زموږ ستراتیژیک موقعیت سبب شو چې له یوې خوا یې د هېواد زیاتي برخي رانه بېلې کړې اوله بلې خوا یې د ځان په ګټه نه بلله چي یو مخ مو هېواد وویشی بلکه د منځنۍ اسیا او د هند د لویې وچې تر منځ افغانستان د یوه حایل په توګه همداسي منجمد، وروسته پاته او په شخړو کې ډوب د حایل په توګه وساتي.

انګرېزان پوهېدل چې په سیمه کې افغانستان د پخواني هند د ساتلو لپاره مهم رول او ستراتیژیک موقعیت لري، غوښتل یې چي څېړني ورباندې وکړي، معلومات ورباندې راټول کړي او د هغو په رڼا کې خپله د افغانانو او هم له دې لارې د روسانو له ضرره هند وساتي. تر جورج فورسټر وروسته چې له 1800 م کال مخکې افغانستان ته تللی و خو داسي څه یې نه و پرېښي چې هغه وخت انګرېزانو ته زیات په درد وخوري. د هند د اداري بورډ مشر لارډ یلنبورغ ویلي و چي « *موږ د افغانستان په هکله پوره معلومات نلرو او باید بشپړ یې کړو.* » نو انګرېزانو لمړی رسمي استازی مونستورټ ایلفنستون په 1808 م کال د څېړنو او معلوماتو راټولولو لپاره افغانستان ته په سفر واستاوه، چي له ځان سره یې په سوغاتونو بار ۶۰۰ اوښانو او ۱۲ پیلان لرل او دا د ځینو تاریخپوهانو په اند د سترو لوبو پیل و.

الفنستن لیکي: « افغانان د نورو په څېر د ډالیو وږي نه دي، افغانانو ته که بې له کوم دلیله ډالی ورکوې دربانديي شک کوي چي موخه دې څه ده خو سویلي اسیا کې نور خلک در نه تمه لري او ورته خوشالېږي. خو که دې افغانان ډالۍ واخلي نو ارومرو به دوی هم ډالۍ درکوي.» ده ولیدل چي افغانان دولتي کارکوونکي په ښکاره د شاه شجاع او حکومت په ضد خبرې کوي، الفنستون پوه شو چي شاه شجاع فکر کوي کلکته په لندن کې ده او دا ورته د امیر د حماقت او کمي پوهي غوره نښه شوه، الفنستن وايي: «شاه شجاع د خپل هېواد او سیمې د امنیت په ځای د انګرېزانو د ګټو په فکر کې وو.» کله چي امیر ده ته هرکلی وایه، درباریان یې د ډالیو په سر په شخړو اوښتي وو. معنی یې داوه چي هغه غرور چي په عامو افغانانو کي شتون درلود د شاه شجاع په درباریانو کې نه و. بل دا وایي چي د شاه شجاع او د انګرېز د راتګ او د امیر دوست محمد خان د لېږې کېدو یوه پلوي قومي مشر د شاه شجاع تر راتګ مخکې ویل، د سون مواد تیار شته، یوازې اړتیا ده چي انګرېزان راشي او اور ورته کړي. د دې قومي مشر مقصد داوه دلته د انګرېز د راتګ، د امیر دوست محمد خان چي یو ملت پال، زړه سواندی او ملي مشر و، د لېږې کولو او په ځای یې د خپل لاسپوڅي شاه شجاع په تخت کېنولو شرایط برابر بللي وو.

دلته ګورو چي الفنستون ته دنده سپارل شوې وه چي زموږ د ټولنې ربښتینی انځور، کمزوري او قوي اړخونه له خپل دولت سره شریک کړي. زموږ د خلکو د قوت نښه ټولنیز عادتونه لکه: مېړانه، جنګیالیتوب، غچ اخیستل او د افغانستان فزیکي جوړښت بیانوي. لکه چي د الفنستن یوه مشهوره تاریخي خبره زیاتو څېړونکو را اخیستي ده او اوس یې هم خلک یادوي داده چي وایي: « **د افغانستان نیول اسانه او ساتل یې ګران دي.**»



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په څیر و لولئ

خو له بلې خوا الفنسټن په خپلو ليکنو کې ښيي چې افغانان د نظام جوړولو په هنر پوره پوه نه دي، ملي شخصيتونه نه پېژني او اهميت نه ورکوي او په ځای يې د بې خبره او خاينو کسانو په واسطه بېلارې کېدای شي او ورباندې حکومت کولی شي، په دولت کې يې نظم او ډسپلين نشته، يو شمېر يې پلوي دي خو خپل مامورين يې په ښکاره په دربار کې په ضد خبرې کوي.
بيا چارلس مسن په بلوچستان، افغانستان او پنجاب کې له ۱۸۲۶ تر ۱۸۳۸ پورې اوسېده او خپلې سفرنامې يې خپرې کړې. په ۱۸۲۹ کال کپتان ارتر کنولي له سنت پتسبرګ روسيې څخه د کسپين سمندرګي او ايران ته سفر وکړ، د ايران په شمال کې بندي شو، بيا يې له زيارت کوونکو سره په کاروان کې مشهد ته سفر وکړ، له افغان پوځ سره هرات ته لاړ، بيا کندهار، کويټې او هند ته ورسېدل او په ۱۸۳۱ کال يې خپلې ليکنې خپرې کړې. د الکساندر برنيس او هنري پوټنجر د اباسين سيند سروې ګانې تيارې کړې چې د شمال غرب، افغانستان او منځنۍ اسيا په لور يې د راتلونکې حملې لاره پرانېستله. برنيس په لمړی سفر کې افغانستان د انګريزانو د استخباراتو لپاره مطالعه کاوه او معلومات يې ورباندې راټول او يو کال يې دوام وکړ، په ۱۸۳۴ کال يې خپل کتاب **« د بخارا سفرونه»** په نامه خپور کړ چې سمدلاسه بريالی او مشهور شو.
په ۱۸۳۵ م کال لارډ اکلند د هند د ګورنر جنرال په توګه وټاکل شو چې په سيمه کې يې د زياتې مداخلې پاليسي خپله کړه. د هند اداري هيئت هغه ته لارښوونه وکړه چې: په زيات دقت سره په افغانستان کې د پېښو بهير وڅاري او د روسانو د نفوذ او کړنو مخه ډب کړي. لارډ اکلند ته يې دنده وسپارله چې و ارزوي له امير دوست محمد خان سره څه چلند وکړي، سياسي اړيکې ولري او که اړيکې يې يوازې تجارتي بڼه ولري او يا هره بله سپارښتنه چې دی د روسانو د نفوذ د مخ نيوي لپاره کوي وبه منل شي... کله هم چې هغه غواړي کولای شي هر ډول مداخله چې د افغانستان په چارو کې کوي صلاحيت لري خو هغه به د فارسيانو او روسانو د نفوذ د زياتېدو په وړاندې وي.
بل ځل جان ووډ د انګرېز تر تسلط لاندې هندي بحري قوې افسر لمړي ځل د کښتيو د تګ راتګ لپاره د بخار انجن په مرسته د اباسين سروې پيل کړه تر څو د کښتيو د تګ راتګ لپاره يې ژوروالی او وړتيا معلومه کړي، پيل کړه او په ۱۸۷۲ م کال يې خپله سروې او څېړنه خپره کړه. په کال ۱۸۳۷ کې کله چې روسي نماينده کپتان جان ويتکوويچ کابل ته لاړ نو انګرېزانو و انګېرله چې روسان غواړي په افغانستان کې کوم نظامی او يا سياسي حضور و لرې. کله چې دې روسي نماينده له بريتانيايي نماينده الکساندر برنيس سره ليدنه رد کړه نو برنيس خپل دولت ته منفي راپور ورکړ، روسان هم د انګرېز له نفوذه او تجارتي هڅو په منځنۍ اسيا کې وېرېدل او بله وېره يې دا وه چې که په مسلمان افغانستان کې د واک او ځواک لرونکی نظام شتون ولري او د انګرېز له مرستو هم برخمن وي د منځنۍ اسيا په خانيو، بخارا او نورو به د دوی په ضد بده اغيزه وکړي.
پخوا تر دې ناپليون په اروپا کې د قدرت تله د ځان پخوا درنه کړې وه او غوښتل يې چې د تزاري روسانو په مرسته هند هم له انګرېز څخه ونيسي. ناپليون په فارس (اوسني) ايران زياته پانګونه کړې وه، که هغه د روسيې او فرانسې ائتلاف ته ورګډ شوی وای نو بيا يوازې افغانستان و چې د هند دفاع ورنه کېدای شوه. په دې وخت کې انګرېزانو خبر تر لاسه کړی و چې شاه زمان د هند په وړاندې پلانونه لري او نور تاريخي روايات وايي چې شاه زمان په هند کې له خپلو لښکرو سره و چې د هند مسلمانان له انګرېز څخه وساتي او د لښکرو لګښت يې هم د هند خلکو ورکاوه. نو الفنسټن يې کابل ته واستاوه چې معلومات راټول کړي. **همغه و چې انګرېزانو فارسيان ولمسول او هغوی شاه زمان د خپل ورور شاه محمود په واسطه ړوند کړ او د قدرت په سره سيالي په افغانانو کې رامنځته شوه.**
**دلته اړتيا وينم چې د سترو لوبو بده اغيزه د افغانستان په ټولنيز او سياسي حالت لږ څه تشريح کړم. ځکه زموږ موخه همدا ده چې دا ټکي وپېژنو او اوس ورته ځېر شو. موخه داده چې د بهرنيانو سره د اړيکو په څرنګوالي بايد ځان پوه کړو، موږ نشو کولای او هېڅ څوک په نړۍ کې نشي کولای چې د نړيوالو سره له اړيکو لرلو بې نيازه شي، خو اصلي خبره داده چې څنګه هنر يې زده کړو او خپلې ګټې وساتو.** ګورو چې کله سياسي تېروتنې، د سياسي اقتدار نيولو نامشروع سيالي او تګلارې، په بهرنيانو تکيه او نور د داخلي او بهرنيو لاملونو له کبله زيات تکرار شي، د ټولنې په فرهنګ بدلېږي، په ټولنه او د راتلونکو نسلونو او سياسيونو په نړۍ ليد بده اغيزه کوي. کومه غلطه لاره چې يو سياستوال غوره کړي او يو څه لنډمهاله ګټه ورنه واخلي، نور سياستوال يې هم اختيار او ټولنيز او سياسي کلتور ته ور داخل شي. نو په همدې توګه کله چې د سترو لوبو په وخت زموږ د ملک کمزورتيا، منجمد ساتل او يا اشغال د ښکېلاکګرو موخه وه، نو تر ټولو اغيزمنه لاره دا وه چې خاين خلک قدرت ته ورسوي. تر دې وروسته د قدرت نيول د انګرېز، روس، ايران، پاکستان او نورو په مرسته يوڅو ځلې تکرار شول، په يوه ناوړه دود بدل شول. همدا و چې تر ننه زموږ زيات مشران د سالمو سياسي سياليو په ځای، يو بل ته د غوږ نيولو، زغم او يو بل منلو، د ګډو ملي موخو ټاکلو او د پرديو د لاسوهنو د مخنيوي په ځای د پردو په مرسته د قدرت نيولو په فکر کې شول او دا زموږ په ټولنه او ملت کې يو بد سياسي فرهنګ شو.
که پخوا په افغانستان کې دوه يا درې ځلې په مشروع او د خلکو په رايه د قدرت انتقال شوی وای چې مشروع او د واک او ځواک خاوند دولتي نظام يې رامنځته کړی وای، د خلکو ژوند، ملي اقتصاد، زموږ ښوونيز نظام او ملي ارزښتونه او ګټې ورسره ټينګ شوي وای، بيا به همغه د سياسيونو او عوامو لپاره فرهنګ شوی وای. که اوس هم


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ

زموږ سیاسیونو د یو څو لسیزو لپاره مشروعیت د خپلو خلکو په ملاتړ کې ولید، ټولې هڅې یې د خلکو د ژوند ښه کولو او ملک په ودانولو کې متمرکزې وې او که افغاني ګوندونو وکولای شول چې دا او ورته ښکارندې په یوه مثبت سیاسي او ټولنیز فرهنګ باندې بدل کړل نو بیا به د نامشروع لارو، سازشونو، تاوتریخوالي او له پردو سره د جوړ جاړي له کبله هېڅوک هم د قدرت نیولو ته زړنه ښه نه کړي ځکه عوام او عامه ذهنیت به ورته اجازه ورنکړي.
یو بل ښه مثال دادی چې کله د روسانو د اشغال په پای کې کله چې افغاني ډلو د افغانستان د کشالې د حل لپاره د ژینیوا مذاکرات د کابل د هغه وخت له رېژیم سره نه کول او د دوي په ځای پاکستانیانو مذاکرات کول، د افغاني ډلو وېره داوه چې د ډاکټر نجیب رېژیم به مشروعیت ومومي ځکه دوی مشروعیت له خپلو خلکو نه بلکه د ژینیوا له مذاکراتو غوښته. نو ځکه په خواشینۍ سره له همغه وخته زموږ په سیاسي فرهنګ کې مشروعیت تر لاسه کول د خپلو خلکو او پرګنو په تایید کې نه بلکه یوازې له بهرنیانو سره په مذاکراتو کې لټول کېږي. باور کېږي چې هر څومره سیاسي پروسه په افغانستان کې پوخوالي ته رسېږي نو بیا به د مشروعیت موضوع لا نورو عوامو او ټولو سیاسیونو ته روښانه شي.
د مجاهدینو ډلې کابل ته راغلې، حکومت یې جوړ کړ، مشروعیت یې پیدا کړ او د نړۍ په زیاتو ملکونو او ملګرو ملتونو کې یې نمایندګان لرل خو څرنګه چې په خپلمنځي جګړو کې لتاړ شول، د ملي سترو مسلو په ځای یې و قومي او ګروپي خبرو ته پاملرنه وکړه، د خلکو ستونزې یې حل نکړې او د خپلو پرګنو تایید یې له لاسه ورکړ، نو کوم مشروعیت هم ور پاته نشو.
خو تاریخ داسې زیات مثالونه لري چې کله یو سیاسي بهیر او مشر یې د خلکو رښتیني ملاتړ تر لاسه کړي هېڅ څوک یې هم مشروعیت تر سوال لاندې نشي راوستلای، که ټوله نړۍ هڅه وکړي چې چاته مشروعیت ورکړي چې د خپلو خلکو او پرګنو ملاتړ ورسره نه وي مشروعیت یې دوام نه کوي. د دې یو ښه مثال نلسن منډېلا او د هغه ګوند دی. ټولو اغیزمنو نړیوالو استعماري قدرتونو په لمړي پیل کې هغه تروروست باله، ۲۷ کاله یې په زندان کې تر شکنجو لاندې د تورو تمبو شاته تېر کړل، خو ورځ تر بلې د هغه حقانیت او مبارزه نړیوال شهرت مونده او همغه و چې مشروعیت خو څه کوې، د هېواد ولس مشر او نړیوال منل شوی شخصیت شو.
خو که په ایران کې د خمیني د خوځښت تاریخ ته وګورو، کله چې خلکو یې ملاتړ کاوه یو زورور دولت چې د زیاتو نړیوالو قدرتونو ملاتړ یې درلود رانسکور او دولت یې جوړ او نړیوال هم اړ شول چې مشروعیت یې ومني که څه هم نه یې خوښېدا. خو بیا کله چې ایراني اخوندان په فساد کې راګیر، رژیم د سیمې د هېوادنو په چارو کې لاسوهل پیل کړل او د خپل هېواد زیاته بودجه یې په بهرنیو ملکونو کې لګول پیل کړل، خلک یې بېوزله شول او اوس په رېژیم کې د بېعدالتیو او نورو لاملونو تر څنګ د رېژیم مشروعیت ورځ تربلې تر سوال لاندې راځي.
اوس هم همدا ستونزه لرو، زموږ ډېری سیاسیون د خپلو پرګنو د تایید او له هغو څه د خپلې مشرۍ د ملاتړ ترلاسه کولو په څرنګوالي نه پوهېږي. دوی کومه علمي مشارکتي او سیاسي برنامه نلري، نه وربانديې باور لري او که ووایې چې داسې پروګرام جوړ کړي هېڅ اهمیت نه ورکوي. دوی له مالي پلوه پخپلو ګوندونو کې د پام وړ شفافیت نلري، د تصیم نیولو کوم د اعتبار وړ او له ننیو شرایطو سره سم میکانیزم نلري. ګوندي او سیاسي فعالیتونه زموږ په ملک کې زیاته مخینه نلري نو زموږ سیاسي ډلې که په هره مفکوره وي، څرنګه چې د یوه ټولنیز کلتور لرونکي دي، له یو څه وړو توپیرونو سره سره د پلان کولو او اوږدمهاله ستراتېژیکو تګلارو په جوړولو باور نلري، یو یې هم نه توانېږي چې په سیاسي پروسه کې خلک مخ په وړاندې په علمي توګه رهبري کړي، عامه نظر په علمي توګه ځانته معلوم او په سم لوري رهبري او مدیریت کړي، زموږ په سیاسي ډلو کې له فساد سره مبارزه او د قانون منل نا اشنا خبره ده، دوی قانون یوازې هغه وخت غواړي چې خپله ګټه یې پکې وي او هر بل وخت یې مخالفت کوي، د دوي فعالیت یوازې د ټاکنو او چوکیو ویشلو په وخت څرګندېږي. نو کله چې د خلکو د ملاتړ اړتیا پیدا کړي، قومي اختلافاتو ته لاس اچوي.
راځو بېرته افغانستان ته د برېتانیا د څېړونکو او ستراتېژستانو سفرونو ته. بیا وروسته کله چې پالمرسټون د برېتانیا د بهرنیو چارو وزیر ویلي وو چې افغانستان د شطرنج د تختې په سر داسې یوه مهره ده چې باید په ځای او مهم وخت وکارول شي. نو لیکوال او ژورنالیست دېوېډ لاین وایي دا هر څه د افغانستان د ګټې لپاره نه، بلکې د روسیې په وړاندې د یوه دفاعي دیوال او جنګ د سنګر په توګه د کارولو لپاره و. **د پالمرسټون د طرحې او نقشې له مخې دا ځل الکساندر برنیس غوره شو چې افغانستان د دې کار لپاره ته تیار کړي.** روښانه ده چې ته کله یو ملک ستا د حریف په وړاندې د سنګر په توګه کارولو ته تیاروې، هلته د خپلو ګټو لپاره نیابتي جګړه له خپل ستراتېژیک سیمه ایز او نړیوال سره پیل کوې، د هغه ملک خلک باید ښه وپېژنې، مهم ملي او د خلکو د راټولېدو شخصیتونه یې تشخیص او په وړاندې یې ځان غوښتونکي او وطن پلورونکي هم وموميې او وکاروې، د قومونو ځانګړتیاوې یې ځانته معلومې کړې، د ببل یې کړه یېل بې کړه فورمول وربانديې پلی کړې، نالوستې، بېوزلي او جاهل یې وساتې، پرېښږدې چې سیاسي شعور او د نړیوالو اړیکو پاللو قدرت وموميې او له نورو سیمه ایزو او نړیوالو قوتونو سره اړېکې ولري، بلکه یوازې ځانته یې باید محتاج وساتې.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

الکساندر برنیس چې یو دا وخت ۲۷ کلن ځوان، د خپل وخت تر ټولو نوښتګر ستراتيژيست، سیاسي کارپوه او د ژبو ماهر و، په دري ژبه یې رواني خبرې کولې، هغه چې د پنجاب له لارې کابل ته روان و نو په لاره یې رنجیت سنګ ته د یوې انګرېزي ارزښت لرونکې بګۍ او دوو اصیلو اسانو تحفه ورکړه او په 1831 کال کې افغانستان او کابل ته راغی، بیا بخارا ته لاړ او د امو د سیند په اوږدو کې یې خپل حماسي یادښتونه ولیکل او زیاتو خلکو خوښ کړل. په دې یادښتونو کې هغه کابل د یوه ستر او مهم تجارتي مرکز په توګه او په کابل کې بالا حصار د یوه مهم ستراتیژیک او پوځي مرکز په توګه یاد کړی دی. ده د کابل خلکو مېرانه، معنویت، فساد او بد اخلاقي ټول ولیدل. ده ولیدل چې هلته یهود، عیسویان، هندوان، سکان او نور اوسېدل، شراب ازاد پلورل کېدل. برنیس د اس ځغلولو داسې سیالۍ ولیدې چې لمرۍ درجې ګټونکي کس ته نجلۍ، دوهم ته ۵۰ پسونه، دریم ته هلک ورسېده، همداسې په ترتیب سره په پای کې یوه کس ته هندوانه ورسېده چې ټولو ورباندې وخندل. معنی یې داده چې برنیس او انګرېزانو زموږ ټولنیز حالت او سیاسي شعور او نظام څارل او بیا یې پلان او د لارې نقشه جوړوله او پرېکړې یې کولې.
برنیس بل ځل له یوه هندي ملګري سره چې موهن لال نومېده د غربي هند په لور د یوه ملنګ په څېر په پښو سفر پیل او بستره یې په شا کړه. د موهن لال پلار چې د هند له لوړ پاړکي څخه و د ایلفنسټن په لمړي سفر کې په کال 1808 م کې د سکرتر په توګه ملګري و. دا راښيي چې انګرېزانو اړیکو پاللو، ځاني ملګرو او د هغوي پوهې او معلوماتو ته څومره اهمیت ورکاوه او څنګه یې ځایي خلک او پوهه د ځان په ګټه کارول، ځکه د هر بهرني لپاره د ځایي خلکو، قومونو په دود او دستور، مهمو شخصیتونو او تاریخ باندې ځان پوهول مهم وي. موهن لال چې د لوړو زده کړو خاوند و، د افغانستان او هند په اړیکو ښه پوهېده او د افغانانو له فرهنګ او مزاج سره ښه اشنا و. دی وايي: **« افغانان له یو شمېر سپین سترګیو سره سره ډېر زړور او بې پروا دي، په اس ناست وي ښه نښه کوي، ډېر خله په یوې وړې تېروتنې یو بل وژني، تل د خپلې مېړانې باتې وهي.»**
له سکندر مقدوني څخه روایت دی چې ویل به یې: ((چې خدای مو د کوبرا له زهرو، د زمري له غاښونو او د افغانانو له غچ اخیستلو په امان کې لره)). سکندر خپلې مور ته په یوه لیک کې د افغان خاورې په باب لیکي: ((د دې خاورې هر فوټ ځمکه پولادین دېوال ته ورته ده، مورې تا خو یو الکساندر نړۍ ته راوړی، خو هلته هره مور یو الکساندر زېږوي.))
د انګلستان ملکې د الکساندر برنیس د مالوماتو راټولولو او خپل دولت ته د خدمت له کبله عالي دولتي نشان ورکړ او د مکتاتین سره یې ډګر جنرال الکساندر برنیس ته په افغانستان کې دنده ورکړه. په دې وخت کې چې ویلیزلي په هند کې مشري کوله د هغه یوه بل ګومارل شوي او غوره تحلیلګر چارلس میټکاف ته دنده ورکړه چې هغه هم د افغانستان او د سکانو د واکمنۍ تر منځ د اړیکو څېړنې کولې، سکانو زیاتې افغان ځمکې لکه پېښور او نور ونیول، شاه شجاع یې بندي او سخت توهین کړ، خو سکان بیا وروسته انګرېزانو ته تسلیم شول. برنیس په ځان د خان نوم ایښی و او غوښتل یې ځان له خلکو سره یو ځای وښيي.
بل انګرېز څېړونکی مورکرافت و چې د افغانستان شرقي خواوته یې سفر وکړ، پېښور او وزیرستان ته لاړ او دا یې ویل چې د ښو اسانو په لټه کې دی، په وزیرستان کې یې دوه ښه اسونه په نښه کړل، خو په حقیقت کې یې د افغانستان د مهمو سیمو او اغیزه لرونکو خلکو څېړنه کوله او معلومات یې راټولول. د وزیرستان د قومونو په هکله یې پلټنې وکړې، د خیبر درې او د هغه ځای د خلکو په هکله یې معلومات راټول کړل. د مورکرافت بل ملګری جورج ټربېک نومېده چې کابل ته په لاره لوټل شوی و او ده د اسیا زیاتې برخې ولیدې. مورکرافت او جورج ټربېک دواړه د ورپېښې تبې له کبله د افغانستان په شمال کې په کال 1825م کې مړه او په مزار شریف کې یې مړي ښخ شول.
که تاسو د انګرېز استازو لکه الفنسټن او برنیس.... لیکنو او نورو تاریخي ارزونو او سندونو ته وګورئ، درته به روښانه شي چې دوی په هر نامه که هغه تجارت و، سیاسي نماینده و او یا بل هر څه نوم چې ورکړ شوی و، خو اصلي دنده یې جاسوسي وه. راجیف دورګا په خپل اثر کې وايي: د انګرېزانو د استازو اکثره قضاوتونه په حقایقو نه بلکه په کینه ولاړ و، دوی به خپلو مشرانو ته له کینې ډک پیغامونه لېږل او هغوی ته به یې د روسانو تهدید تر واقعیت زیات ستر ښوده.
نور بیا...

**د دې په هیله چې له نړیوالو په اړیکو کې خپلې ګټې وساتو**


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولئ